**مطبوعاتي اعلامیه**

**امریکا یو ښکېلاکګر او یرغلګر دولت دی، څوک چې د دوی تر شاه ځان پټوي ښکاره او څرګند دي؛ دا یو نه پټېدونکی حقیقت دی!**



**(ژباړه)**

ولسمشر البشیر د ۲۰۱۸م د اکتوبر ۱۳مه د سه شنبې په ورځ په «نیل سفید» ایالت کې د خلق (PDF) د ځواکونو د نهه ویشتمې کلیزې په نمانځغونډه کې وویل: «سوډان خپله رایه هېچا ته نه ورکوي؛ ځکه باور لري چې روزي یوازې د الله سبحانه وتعالی په لاس کې ده.» هغه زیاته کړه: «پرېږدئ چې خپلې خزانې او تودې خپل ځانته وساتي، موږ هغوی ته چې له غرب او امریکا قدرت غواړي وایو، څوک چې ځان د امریکا تر شا پټوي ښکاره دي.»

دا خبرې البشیر کړي. خو ټول پوهیږي چې د البشیر رژیم له پرله پسې قربانیو سره سره لا هم د سپینې ماڼۍ په امرونو ولاړ دی. دوی هغه اسلامي قوانین چې له ډیموکراتیکو قوانینو سره ټکر لګوي، پرېښودل. د حدودو په پلي کولو یې سترګې پټې کړې. تثقیفي او د اسلام دڅېړنو دوره یې بدله کړه. له امریکا سره یو ځای د اسلام پر وړاندې د ټروریزم تر نامه لاندې،جګړه کې یې ګډون وکړ. له دې ټولو یې موخه داده څو امریکا له ځانه راضي کړي او سوډان د هغې له تور لېسته وباسي. له دې سربېره د دولت سیاسي مقامونو، متفکرینو، د اردو رهبرانو، امنیتي شرکتونو او داسې نورو کسانو سفرونه شپه او ورځ واشنګټن ته دوام لري.

دا خبرې د رسنیو سوژې او یو ټاکنیز کمپیان دی، چې په اصل کې د هېواد کړکېچ ته اندېښنې زېږنده دي. هغه کړکېچونه چې د دې رژیم په درې لسیزې عمر کې لا هم شته. د سوډان وګړو له البشیر څخه داسې ډېرې خبرې اورېدلي؛ مخکې له دې البشیر له سپوتنیک سره په یوه مرکه کې چې د ۲۰۱۷م د اکتوبر په ۲۵مه د شنبه په ورځ خپره شوه وویل: چې دا امریکا وه چې جنوبي سوډان یې بېل کړ. هغه وویل: «سوډان

د امریکا له لوی فشار او دسیسې سره مخ دی. د دارفور او جنوبي سوډان قضیو د امریکا ملاتړ تر لاسه کړی او جنوبي سوډان د امریکا د فشار له کبله بېل شوی.» هغه وايي: «موږ خبر شوي یو چې که سولې او امنیت ته ونه رسیږو، متحده ایالات غواړي سوډان په پنځو هېوادونو وویشي... امریکا د نړی رهبري تر لاسه کړې او عربي نړی یې لوټ کړې ده... . خو هغه څه چې د سوډان د بېلوالي مسله وه، دا بېلوالی د امریکا د فشار او دسیسې په ترڅ کې وشو. د هغوی طرحه د سوډان له منځه وړل او په پنځو هېوادونو وېشل دي.»

نو که البشیر په خپلو خبرو کې جدي او ریښتینی دی، باید خپلې خبرې عملي کړي. خپلې اړیکې له امریکا او ټولو هغو یرغلګرو هېوادونو سره چې له مسلمانانو سره په جګړه کې دي، پرې کړي. حتا له ټولو ښکېلاکګرو سازمانونو سره معاملې بندې کړي. دا کار دې له ملګرو ملتونو او د هغه د جنګ له شورا چې په دروغو د امنیت شورا ورته وايي، پیل کړي. همدارازله هغو مالي سازمانونو چې په سودي سیستم ولاړ دي او سوډان یې له مالي کړکېچ سره مخ کړی اړیکې پرې کړي.

هیله ده دا د البشیر لپاره د نیکی ګام وي، چې حقیقت ته را وګرځي، د خپلو خلکو حقونه جبران کړي او په اسلامي امورو یې له چارو ساتنه وکړي. د الله سبحانه وتعالی د خوښی، د مومنانو د زړونو رضایت او د کافرانو د خپګان لپاره ګام پورته کړي. ځکه الله سبحانه وتعالی خبرې کول او بیا یې عملي کول خوښوي او له نفاقه نفرت لري. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لا تَفْعَلُونَ﴾**
[صف: ۲-۳]

***ژباړه:*** *اې مسلمانانو! ولې خپلې خبرې نه عملي کوئ؟ د الله سبحانه وتعالی په دربار کې دا ډېر بد دي چې څه ووایئ او عملي یې نه کړئ.*

امریکا یو ښکېلاکګر او یرغلګر دولت دی. څوک چې د دوی تر شا ځان پټوي معلوم دي او پر دې حقیقت سترګې نه شي پټېدای. امت باید زموږ له خاورو د استعمار د جرړو ایستو او پر بنده ګانو یې د الله سبحانه وتعالی د احکامو د پلي کولو لپاره هڅه وکړي. د حقیقي بدولون لپاره چې الله سبحانه وتعالی یې ژمنه کړې او د امت وجیبه ده کار وکړو. دا کار د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منهج په مرسته او د راشده خلفاوو رضی الله تعالی عنهم اجمعین غوندې د خلافت اعلان دی. هغه خلافت چې د اسلام بیرغ پورته کوي، له مظلومانو ملاتړ او له ظالمانو سره حساب کوي. د ژغورنې یوازینۍ لار همدا ده بله نشته. الله سبحانه وتعالی د خپلو مخلصو بنده ګانو ملاتړ کوي. ځکه هغه، هغه څوک دی چې له خپلو بنده ګانو سره یې د ځمکې پر مخ د خلافت او قدرت ژمنه کړې ده.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**
[نور: ۵۵]

*__ژباړه:__ الله سبحانه وتعالی ستاسو د ډلې له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او سمې کړنې تر سره کوي، ژمنه کوي، چې دوی به د ځمکې پر مخ حاکمان کړي. لکه څنګه یې چې مخکینیو ته د ځمکې پر مخ خلافت ورکړ. هغه دین چې د دوی لپاره یې خوښ کړی جاویدان او قوي به یې کړي. وېره به یې په امنیت او ارامۍ بدلوي. که یوازې زما بنده ګې کوي او څه شی نه راسره شریکوي. هغوی چې وروسته کافرانیږي، هغه فاسقان دي.*

**ابراهیم عثمان (ابوخلیل)**
**د حرب التحریر-ولایه سوډان رسمي ویاند**
**د صدور ګڼه: HTS ۱۴۴۰/۰۹**
**۱۴۴۰ه.ق د ربیع الاول ۷مه**
**۲۰۱۸م د نومبر ۱۵مه**
**ژباړن: حبیب الله**